مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۲۷

# راونړېدم

ته را په زړه شولې د هيلو قبرستان باندې راونړېدم
زه شاړ ديوال باندې بناء ومه په ځان باندې راونړېدم

ديو صفت روح د ادم زادې تګ نه وروسته روغ دی
او ما ته ګوره چې انسان وم په انسان باندې راونړېدم

ورځ مې په اور بازار کې مسته ستا تر مخ پناه شوه
خوب کې د خپلې مور په يو اخ هی قربان باندې راونړېدم

هسې خو درد نه هم د خپل شتون باج په زوره اخلم
زړه چې مين وم ګوره ستا سوي مکان باندې راونړېدم

خلکو ته دومره بې معنا يې دروازې په رڼا ورځ بندې دي
خو ياره زه دې د نرې راتګ امکان باندې راونړېدم

بويه چې دا شرک دې د زلفو څه فساد جوړ نه کړي!
له تېر ور تېر ځله دې هم په شرک باران باندې راونړېدم

۲۰۲۳/۳/۵ کابل

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ